التعليم فوق الجميع | education above all


# پخپله لیکوال جوړېدل (ابتدايي کچه)

| | |
|---|---|
| تشریح: | زده کوونکي به، د جزئیاتو، لکه کردارونه، د کیسي طرحي، په ګډون، د کیسي بیانولو عنصرونه او د لیک او لوست تخنیکونه وڅېړي، او په تخلیقي/نوښتي توګه به هغوی خپل کتابونه رسم او ولیکي. |
| لاربښودونکي پوښتنه: | کوم شیان یوه کیسه جالبه کوي؟ |
| د عمر ګروپ: | ۴ – ۵ کلونه عمر درلودونکي |
| موضوعګاني: | لیک او لوست (سواد)، هنر، ټولنیزه عاطفي زده کړه (SEL)، او ریاضیات |
| ټول اړین وخت: | د ۵ ورځو په ترځ کې ۵ ساعتونه |
| ځاني رهبري/نظارت | نظارت شوی |
| اړین توکي: | پنسل، کاغذ، رنګین پنسلونه، سرېښ، توپ |
| زده کړه ییزې لاسته راوړنې: | • زده کوونکي به د یوه کتاب بېلا بېلې برخې وپېژني.<br>• زده کوونکي به د یوې کیسي جزئیات په ګوته او بیان کړي.<br>• زده کوونکي به د یوې کیسي کردارونه وپېژني.<br>• زده کوونکي په یوه شي چې یوه کیسه څېرته پېښېږي.<br>• زده کوونکي به خپل احساسات په ګوته او په اړه یې خبرې وکړي او دا په یوه کیسه کې د کردار احساساتو سره مقایسه کړي.<br>• زده کوونکي به خپل کتابونه جوړوي. |

**لومړۍ ورځ –** نن، زده کوونکي به د نورو کیسو په لوستلو سره د کیسي بیانولو بېلا بېل عنصرونه وپېژني. زده کوونکي به د کیسي دپېښېدلو ځای او کردارونه په ګوته کړي. زده کوونکي به د کیسي نقشه درک او جوړه کړي.

| وخت | فعالیت او تشریح |
|---|---|
| ۲۰ دقیقې<br><br>1 | زده کوونکو ته یوه کیسه ولولئ. که تاسي کیسي ته لاسرسی نه لرئ، په ضمیمه کې ورکړې کیسي ته مراجعه وکړئ (د شیریني لپاره یو کتاب: https://storyweaver.org.in/stories/24620-a-book-for-puchku)؛<br><br>په بل صورت کې، تاسي کولای شئ د خپل ژوند یوه خوږه خاطره یا پېښه چې تاسي حیران شوي وئ، بیانولای شئ (بېلګه، ستاسي وروستۍ د زوکړې ورځ، یو چکر، یا یوه جشن).<br>زده کوونکو ته د کیسي عنوان (نوم) او د لیکوال نوم ویل مو له یاده و نه وځي.<br><br>زده کوونکو ته ووایاست چې د کیسي اورېدو پر مهال لاندینیو مواردو ته پام وکړي:<br>• د کیسي عنوان/نوم<br>• کیسه چا لیکلې یعني د کیسي لیکوال<br>• کردارونه (په کیسي کې راغلي خلک یا حیوانات)،<br>• او کیسه څېرته پېښېږي.<br><br>**سپارښتنه:** د لوستلو پر مهال، هڅه وکړئ چې پر ټولو جزئیاتو، کردارونو، د کیسي د پېښېدو ځای، او وخت (سهار-ماسپښین-شپه) باندې ټینګار وکړئ. ټینګارونه کول ماشومانو سره د کیسي د بېلا بېلو برخو په ګوته کولو کې مرسته کوي. |

| | |
|---|---|
| ۱۰ دقیقې | **په لوړ غږ د لوستلو بحث:**<br><br>• زده کوونکي د کیسي عنوان په اړه فکر کولو ته راوبولئ.<br>• له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې فکر وکړي او تاسي ته ووايي چې د کیسي کردارونه څوک دي؟<br>• کیسه څېرته پېښېږي (صحنه/چاپېریال)؟<br>• او پای ته د رسولو لپاره، له هغوی څخه پوښتنه وکړئ چې آیا کسه د هغوی خوښه شوه، ولې، یا ولې نه؟ او تاسي ته ووايي چې د کیسي تر ټولو غوره برخه کومه یوه وه؟ |


<table>
<tr>
<td>۳۰ دقیقې</td>
<td>تاسې به زده کوونکو ته د "کیسې نقشه" موضوع معرفي کوئ.<br><br>له زده کوونکو سره د لوستل کېدونکې کیسې پر جوړښت باندې په پوهېدو کې د مرستې لپاره، تاسې هغوی د کیسې نقشې رسمولو لپاره هڅولای شئ.<br><br>د کیسې نقشه به زده کوونکو ته د کیسې د مهمو پېښو په هکله یو نظر ورکړي چې دا کار به هغوی سره د کیسې د تسلسل د څرنګوالي په یاد ساتلو کې مرسته وکړي.<br><br>• تاسې کولای شئ هغوی ته د کار کولو لپاره یو چوکاټ ورکړئ، یا<br>• زده کوونکو ته د کاغذ یوه سپینه پاڼه ورکړئ او<br>• له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې نقشه پخپله رسمه کړي.<br><br>د دې تر شا پرته فلسفه دا ده چې زده کوونکي د کیسې په اصلي پېښو پوه شي او په یاد ولري چې د کیسې د پېښو تسلسل څنګه ترتیب کړای شوی دی.<br>• زده کوونکي وهڅوئ چې د کیسې نقشه باندې انځورونه رسم کړي چې له هغوی سره د کیسې په مجسمولو کې مرسته وکړي.<br>• هغوی وهڅوئ چې خبرې، چې د خبرو پوکاڼیو کې لیکل شوې وي، یا فقط یوه یوه کلمه شامل کړي.<br><br>له خبرو اترو څخه په کیسه کې د کردارونو او د کیسې د پېښېدو ځای په اړه بحث کولو لپاره د لوړ-غږ-لوستلو په جریان کې ګټه واخلئ.<br>• او له زده کوونکو څخه د کیسې د یوې نقشې جوړولو غوښتنه وکړئ.<br>• هغوی به د بېلا بېلو کردارونو، چې په کیسه کې یې موندلي، رسمول پیل کړي (ژوې، خلک، او داسې نور).<br>• او د کیسې د پېښېدو ځای (ځنګل، ښار، دښته، او داسې نور)<br><br><br></td>
</tr>
</table>

التعليم فوق الجميع
education above all



**دوېیمه ورځ –** زده کوونکي به، نن، د "**وړه سور چپنه نجلۍ (Little red ridding hood)**" کیسې په مرسته د کیسې درې برخې وپېژني: پیل، منځ، او پای. هغوی به بې له بهرنۍ مرستې (په خپلواکه بڼه) د کیسې د بیاځلي بیانولو لپاره د کیسې نقشه وکاروي.

<table>
<tr>
<td>وخت ۳۰ دقیقې</td>
<td>فعالیت او تشریح<br>تاسې د کیسې د چاپېریال (چېرته چې یوه کیسه پېښېږي) او کردارونو په اړه بحث کړی دی.<br>نن به زده کوونکي پوه شي چې د یوې کیسې په پیل، منځ او پای کې څه پېښېږي:<br><br>• پیل یعني څه چې په کیسه کې په سر کې پېښېږي.<br>• منځ یعني څه چې په کیسه کې ورپسې یا راتلونکي کې پېښېږي.<br>• پای یعني څه چې په کیسه کې په آخر کې پېښېږي.<br><br>زده کوونکو ته لاندینۍ کیسه ولولئ او په ګډه سره معلوم کړئ<br>• چاپېریال/صحنه<br>• کردارونه<br>• پیل<br>• منځ<br>• پای.<br><br>وړه سور چپنه نجلۍ په یو ځنګل کې له خپلې مور سره اوسېده. یوه ورځ وړه سور چپنه نجلۍ د خپلې نیا لیدلو لپاره لاړه. هغې سره په خپله ټوکرۍ کې یو ډېر مزېداره کیک و.<br>پر لاره، وړه سور چپنه نجلۍ له یوه لېوه سره مخ شوه. 'سلام!' لېوه وویل. 'ته چېرته روانه یې؟'<br>'زه د خپلې نیا لیدلو ته روانه یم. هغه د هاغه ونو شا ته یو کور کې اوسېږي.'<br>لېوه په منډه منډه د نیا کور ته ورغلو او نیا یې وخوړه. هغه د نیا په کټ کې سملاستو. لږ وروسته، وړه سور چپنه نجلۍ کور ته ورسېده.</td>
</tr>
</table>

| | |
|---|---|
| | هغې لېوه ته وکتل. 'نیا، څومره غټې سترګې لرې!'<br>'ښه دی چې تا ورباندې ګورم!' لېوه ووېل.<br>'څومره غټ غوږونه لرې!'<br>''ښه دی چې ستا غږ ورباندې اورم!' لېوه ووېل.<br>'نیا، څومره غټه پوزه لرې!'<br>'ښه دی چې تا ورباندې بویوم!'، لېوه ووېل.<br>'نیا، څومره غټ غاښونه لرې!'<br>' ښه دی چې تا ورباندې وخورم!' لېوه چیغه کړه.<br><br>یو لرګي پرېکوونکی په ځنګل کې و. هغه چیغه واورېده او په منډه د کور پر لور راغلو.<br><br>لرګي پرېکوونکي لېوه په سر وواهه. لېوه خپله خوله خلاصه کړه او چیغه یې کړه او نیا ترې بهر راټوپ کړ.<br><br>لېوه وتښتېدو، او وړکې سور چپنې نجلۍ بیا هېڅکله هغه و نه لیدلو.<br><br>د دې فعالیت اړونده نوره برخه په دې لنک کې د لاسرسي وړ ده<br>https://learnenglishkids.britishcouncil.org/es/short-stories/little-red-riding-hood<br>یا ضمیمې ته مراجعه وکړئ |
| ۲۰ دقیقې<br><br>2 | اوس به تاسې له زده کوونکو څخه د "وړه سور چپنې نجلۍ" کیسې لپاره د کیسې نقشه جوړولو غوښتنه وکړئ.<br><br>دا ځل به زده کوونکي کردارونه، صحنه/چاپېریال، او هغه څه چې د کیسې په پیل، منځ، او پای کې پېښېږي، رسموي.<br><br>د یوه مفکورې اخیستلو لپاره انځور وګورئ.<br><br>**سپارښتنه:** تاسې کولای شئ چې زده کوونکي وهڅوئ چې د انځور د تشریح کولو لپاره یو څو کلمې ولیکي. |
| ۱۰ دقیقې | په دې وروستي فعالیت کې، زده کوونکي په خپلواکه بڼه د "وړه سور چپنې نجلۍ" کیسه بیاځلي تکراروي.<br>• له زده کوونکو څخه په ۲ یا ۳ کسیزو ګروپونو کې د کار کولو غوښتنه وکړئ او هر یوه ته خپل د کیسې نقشو ته په کتو سره د کیسې د بیاځلي تکرارولو فرصت ورکړئ. |

**درېیمه ورځ – نن، زده کوونکي به د "یوې کیسې رسمول" فعالیت په مرسته خپل د تفسیر مهارتونه پیاوړي کوي.**

زده کوونکي به یوه موضوع انتخابوي، خپله کیسه به جوړوي او د کردارونو لپاره کاغذي نانځکې جوړوي.

| وخت | فعالیت او تشریح |
|---|---|
| ۳۰ دقیقې | **فعالیت:** د کیسې رسمول<br>په دې فعالیت کې رسمول او د کیسې بیانول دواړه شامل دي.<br><br>• زده کوونکي جوړه جوړه یا یې په کوچنیو ګروپونو کې تنظیم کړئ.<br>• هر زده کوونکی به په کاغذ باندې د خپلې خوښې یو انځور رسموي. زده کوونکي وهڅوئ چې په خپل رسم کې لږ تر لږه یو کردار شامل کړي.<br>• زده کوونکي به خپل څنګ ته کس سره خپل رسمونه تبادله کوي. دا کس اوس د هغه رسم پر بنسټ چې په لاس یې لري یوه کیسه وایي. اصلي "هنرمند" بیا کولای شي هغه کیسه چې له خپل رسم سره یې جوړه کړې، شریکه کړي.<br>**سپارښتنه:** دا د زده کوونکو د مجسم کولو مهارتونو او همدا رنګه د تفسیرولو د مهارتونو د پیاوړي کولو یوه غوره لوبه ده. |

۳۰ دقیقې

په دې فعالیت کې، زده کوونکي به لاندینیو موضوعګانو څخه یوه موضوع غوره کوي او د صحنې/چاپېریال، کردارونو، پیل، منځ او پای په ګډون به یوه بشپړه کیسه ترتیبوي. هغوی به د کیسې لپاره د ګوتې نانځکې جوړوي.

- زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې له دغو موضوعګانو څخه یوه موضوع انتخاب کړي:

| د کورنۍ غړي | کردارونه | خواږه ملګري | د خوښې ژوي |
| --- | --- | --- | --- |

- زده کوونکي به کردارونه (هغوی کولای شي څومره یې خوښ وي، هومره کردارونه رسم کړي، ژوي او خلک) او صحنه رسم کړي). او د پیل، منځ، او پای تسلسل به تعقیب کړي.
- زده کوونکي به دا کار د څلورمې ورځې لپاره وساتي.

یو ځل چې هغوی کیسې سره چمتو شول، زده کوونکي به په کیسه کې د کردارونو د ښودلو لپاره د ګوتې کاغذي نانځکې ډیزاینوي. نانځکې د دوی د خوښې هر کردار کېدای شي.

- له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل کردارونه رسم او رنګ کړي. (د یوې مفکورې اخیستلو پاره انځور وګورئ)



د ګوتې نانځکې په اندازه د کردارونو د جوړولو لپاره، زده کوونکي باید په ښخ کې وزرې ورکړي، تر څو د دوې په کوته باندې سم راشي. باوري کړئ چې ستاسې وزرونه دومره اوږده وي چې په ښه توګه ستاسې د ګوتې نه چاپېره شي.

- له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې وزرونه ۳ سانتي متره پلن او ۱ سانتي متر اوږده جوړ کړي تر څو په ګوتو باندې په ښه توګه ولګول شي. هغوی به په دې برخه کې ستاسې مرستې ته اړتیا ولري. تاسې د مفکورې اخیستلو لپاره انځور ته کتلای شئ.




3

- زده کوونکو سره د ګوتې نانځکې پرېکولو کې مرسته وکړئ.
- اوس هغوی دا نانځکه له خپلې ګوتې څخه په تاوه ولو سره ازمایلی شي.
- یو ځل چې دا په ښه توګه ځای پر ځای شوه، زده کوونکي کولای شي دا د سرېښ په مرسته ټینګه کړي.




زده کوونکو ته فرصت ورکړئ چې په بېلا بېلو صحنو/سناریو کې د کردارونو ترمنځ د ډیالوګ/خبرو اترو تمرین وکړي.

- له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپلې کیسې خپلو ملګرو سره شریکې کړي.
- که هغوی د ډیالوګ په برخه کې مرستې ته اړتیا ولري، تاسې، د بېلګې په ډول، تاسې هغوی ته دا اشاره ورکولو سره مرسته کولای شئ "ستاسې کردار څه کوي؟" یا "تشریح کړه چې په دې کیسه کې ستاسې کردار څوک دی؟"

**اشاره:** د کردارونو ترمنځ ډیالوګ منځته راوړلو لپاره د ګوتې نانځکې تر ټولو غوره دي.

**څلورمه ورځ –** نن، زده کوونکي به بېلا بېل احساسات په ګوته، منعکس او تر بحث لاندې ونيسي او بيا به يې په کيسه کې د کردار له احساساتو سره پرتله کوي. نن به زده کوونکي د خپلو کتابونو جوړولو سره واقعي ليکوالان شي.

| وخت | فعاليت او تشريح |
| --- | --- |
| ۲۰ دقيقې<br><br>1 | نن، ورځ د "احساسات فعاليت" سره پيل کړئ. له زده کوونکو سره د هغوی د احساساتو په اړه خبرې کول به هغوی سره په کيسه کې د کردارونو د احساساتو، چې هغوی يې لري، په درک کولو کې مرسته وکړي.<br><br>د احساساتو پېژندنه:<br>• تاسې به د احساساتو يو لړليک جوړوئ.<br>• پيل په بنسټيز احساس سره وکړئ، لکه خوشحاله يا خفه، او تشريح کړئ چې دا يو احساس دی.<br>• له لا پېچلي احساس څخه په ګټه اخيستنې سره دويمه بېلګه وړاندې کړئ، لکه، هيجان يا حيرانتيا.<br>• له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د نورو احساساتو په اړه فکر وکړي او تاسې ته يې ووايي، هغه هم لسټ کې وليکئ، او دا لست د زده کوونکو د ليدو لپاره په يوه چارټ باندې وځړوئ.<br>• اوس، تاسې به د خپل د احساساتو لسټ پيل ته ورشئ او له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې د هغه احساساتو لپاره کټه ګوته پورته کړي چې له داخل څخه خلکو ته خوښې وربخښي او د هغه احساساتو لپاره کښته ځوړنده ونيسي چې خلکو ته له داخل څخه ډېره خوښي نه وربخښي.<br><br>تعقيبي بحث ترسره کړئ.<br>• له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ چې آيا هغوی کله داسې احساس کړی دی چې په ترڅ کې يې دا پرېکړه کول ستونزمنه وه چې آيا دا احساس هغوی لپاره له داخل څخه د ښه يا بد احساس درلودلو باعث شوی و او که څنګه. يوه بېلګه وړاندې کړئ.<br><br><br><br>اوس تاسې کولای شئ زده کوونکو ته د مزاجونو چارټ ښکاره کړئ او پوښتنه ترې وکړئ، "نن تاسې څه احساس لرئ؟" هغوی کولای شي له چارټ څخه انتخاب وکړي او خپل احساسات بيان کړي.. |
| ۱۰ دقيقې | • دا کيسه زده کوونکو ته ولولئ. له دې وروسته، په ګډه سره د کردار احساساتو باندې بحث وکړئ.<br><br>**علي او جادويي قالين**<br><br>يوه ډېره توده ورځ وه، علي د خپل کاکا په هټۍ کې يو قالين پيدا کوي.<br>'دا څه شی دی؟' ناڅاپه قالين توپ وهي! حرکت کوي او هوا ته پورته کېږي.<br><br>'هي! دا څه کېږي؟'<br>يو لوړ دروند غږ له قالين څخه راځي. 'ښه راغلاست، زما ښتنه. زه يو جادويي قالين يم.'<br>لومړی، هغوی فضا ته پورته کېږي او په يو ځنګل کې کښته کېږي. هوا ډېره توده او نمناکه ده، او باران ورېږي.<br>"باران ورېږي! خوند نه کوي!"<br><br>بيا هغوی د دښتې په لور پرواز کوي. دا خو ډېره زياته توده او وچه ده. هوا نن ډېره توده ده!'<br>وروسته، هغوی د جنوبي قطب پر لور پرواز کوي. دلته ډېر يخ او واوره ده. هوا کنګلوونکې ده. 'بررررا!'<br>'مونږ اوس چېرته يو؟ ما ته هيڅ هم نه ښکاري!' 'په غرونو کې. آيا تاسې ته زه ښکارم؟' په فضا کې تېنکه لړه خپره ده.'<br><br>بيا هغوی د يوه ځنګل په لور الوځي. هلته خو ډېر تېز باد لګېږي. 'اوه، په ځنګل کې ډېر تېز باد لګېږي!'<br>هغوی په سمندر کې د يوه ټاپو پر لور پرواز کې. تالنده او برېښنا ده. 'آاااخخ! راځه چې کور ته ځو!' 'څه ناآشنا توپان دی!'<br>په پای کې هغوی بېرته د کور پر لور پرواز کوي. قالين په هټۍ کې کښېني، او علي کوزېږي.<br>'واو! څه يو يادګاري سفر و!' |


| | |
|---|---|
| education above all التعليم فوق الجميع | • له زده کوونکو نه پوښتنه وکړئ چې علي د کيسې په پيل کې څه احساس درلوده. په منځ کې يې څه احساس درلوده؟ د کيسې په پای کې هغه څه ډول احساسات درلودل؟ |
| ۳۰ دقيقې | له هغه کيسې سره چې زده کوونکو په دريمه ورځ جوړه کړې وه، هغوی به اوس د خپل کتاب په جوړولو لاس په کار شي!<br>• هغوی ته ۳ سپين کاغذونه ورکړئ او له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې دغه کاغذونه قات کړي. هغوی کولای شي په ۳ پاڼو سره يو کتاب جوړ کړي (پيل – منځ – پای).<br>• له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې خپل کردارونه، جلا جلا صحنې/چاپېريال، د هغوی کړنې، او هغوی څه احساس لري رسم کړي. هغوی به د خبرو/ډيالوګونو لپاره کاغذي نانځکې کاروي.<br>• له هغوی څخه غوښتنه وکړئ چې د اړتيا له مخې نور رسمونه اضافه او جوړ کړي.<br><br>له ماشومانو سره د کتاب جوړولو لپاره خپلو کې د ټولو پاڼو ترلو يا سنجاق کولو کې مرسته وکړئ.<br>دا د زده کړې د وروستۍ ورځ لپاره وساتئ. |

**پنځمه ورځ** – نن، زده کوونکي به د کتاب دوه نور خصوصيتونه وځېړي: پاڼې او پښتۍ. هغوی به د دغه نويو معلوماتو په زياتولو سره خپل کتابونه بشپړ کړي.

| وخت | فعاليت او تشريح |
|---|---|
| ۲۰ دقيقې | نن به زده کوونکي خپل کتابونه پوره کوي. زده کوونکي پوهېږي چې يوه کيسه صحنې/چاپېريال، کردارونه، پيل، منځ او پای لري.<br>زده کوونکي به له دوه اړينو ځانګړنو سره اشنا کړل شي چې هغوی ورته د خپلو کتابونو د جوړولو لپاره اړتيا لري:<br><br>• د شمېرلو د يوې لوبې پر مټ، زده کوونکي به د "پاڼو شمېره" په اړه زده کړه ترلاسه کړي: دا هغه شمېره ده چې په لانديني کنج کې قرار لري او کله چې تاسې د لوستلو په جريان کې پاڼه اړخوئ، دا بدلېږي.<br><br>د دې نوې ځانګړنې لپاره، تاسې کولای شئ د رياضي لوبه ترسره کړئ: زده کوونکو ته ووایاست چې عددونه هر ځای شتون لري. که هغوی په ځير سره متوجې شي، هغوی به د کيسو کتاب په پاڼو کې عددونه وګوري!<br>• راځئ چې د شمېرلو تمرين وکړو! له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې له تاسې سره يوځای تر ۱۰ پورې مخ پر وړاندې او شا ته (معکوس) شمېرنه ترسره کړي.<br><br>**سپارښتنه:** که تاسې فکر وکړئ چې هغوی په دې کار کې تکړه دي، هغوی سره تر ۲۰ پورې په شمېرنه ترسره کولو کې مرسته وکړئ!<br>اوس د لوبې وخت دی!<br>**د لوبغاړو شمېر:** د لوبغاړو دوې يا زياتې جوړې<br>**لوبه څنګه ترسره کېږي:**<br>• په ټيمونو کې، توپ (بال) وتوغوئ او ويې نيسئ.<br>• هر ځل چې تاسې له يوه شخص نه بل شخص ته بال توغوئ، په لوړ غږ يې وشمېرئ.<br>• هر ځل چې تاسې بال نيسئ، له ۱ څخه په پيلولو او هر ځل د بال په نيولو د تسلسل له مخې په شمېرلو سره عدد وشمېرئ.<br><br>که توپ پرېوځي، له سره پيل کړئ.<br><br>کومه جوړه تر ټولو مخکې د ۱۰ عدد ته ورسېده؟ هغوی د لوبې ګټونکي دي! 2 |
| ۱۰ دقيقې | زده کوونکي به اوس د خپل کتاب لپاره پښتۍ (د مخ پاڼه) ډيزاينوي:<br><br>• د لوبې وروسته، زده کوونکو ته د "د يوه کتاب پښتۍ" وروپېژنئ. که تاسې کتاب ولرئ، تاسې هغوی ته ښکاره کولای او له هغوی څخه پوښتنه کولای شئ چې هغوی په پښتۍ باندې کوم معلومات ليدلای شي. تاسې کولای شئ د پښتۍ بېلګه چې لاندې وړاندې شوې، وکاروئ يا هغوی ته فقط تشريح کړئ چې د يوه کتاب پښتۍ دا شيان لري:<br>• نوم<br>• د کيسې په اړه يو رسم<br>• د ليکوال نوم (هغوی پخپله) |

<table>
<tr>
<td>

**نوم/سرلیک:**




له زده کوونکو څخه د کيسې د نوم/عنوان په اړه د فکر کولو غوښتنه وکړئ. هغوی ته څو بېلګې ورکړئ:

- "زه او زما تر ټولو ښه ملګری،"
- "د شادګل او پېشو يادګاري سفرونه،"
- "خپه سپی،"
- "زما مور زما اتله ده"

په يوه کاغذ باندې، زده کوونکي به خپل نومونه رسم او وليکي. هغوی سره د کتاب د نوم په برخه کې مرسته وکړئ.

زده کوونکي به پښتی سنجاق کړی یا په سرېښو ونښلوي او په هغه کتاب کې به چې تېره ورځ يې پيل کړی و، د پاڼو شمېرې وليکي.

**ننګونه:** له زده کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې هڅه وکړي د انځورونو لاندې يوه ساده جمله يا يوه کلمه وليکي.

</td>
<td></td>
</tr>
<tr>
<td>

زده کوونکو ته وخت ورکړئ چې خپل کتابونه له خپلو ملګرو او د کورنۍ غړو سره شريک کړي.

**انعکاس او بحث:** هر زده کوونکی د نورو مخې ته راوغواړئ او غوښتنه ترې وکړئ چې خپل جوړ کړی کتاب ښکاره کړي.
اوس له نورو زده کوونکو څخه پوښتنه وکړئ:

- تاسې د کتاب په اړه فکر کړئ؟
- آيا دا کتاب تاسې ته بل داسې کوم شی در په ياودي چې تاسې مخکې له مخکې لوستلی یا ليدلی دی؟
- ستاسې په ګومان په کتاب کې به څه ډول کردارونه وي؟
- ستاسې په ګومان کيسه به څېرته پېښېږي؟
- ستاسې په اند څه شی به پېښېږي؟

- هر زده کوونکي ته فرصت ورکړئ چې خپل کتابونه له خپلو ملګرو/سيالانو سره شريک کړي.

</td>
<td>٢٠ دقيقې<br><br>2</td>
</tr>
<tr>
<td>

د زده کړې اونۍ پای ته رسولو لپاره، ماشومانو سره يوه کيسه شريکه کړئ:

- "څوک ما سره مرسته کولای شي؟" د ټول ماشومان يې لولي، کمبوډيا له خوا

**څوک ما سره مرسته کولای شي**

ميمونه يو کتاب لوستل غواړي. خو کتاب نه لري.

"زه به ځان لره خپل کتاب جوړ کړم،" ميمونه وايي




</td>
<td>١٠ دقيقې</td>
</tr>
</table>

هغه رسمونه کاري او پلار يې له هغې سره د انځور په رنګولو کې مرسته کوي.



She draws and her father helps her paint the picture.



Now, Taro paints and her mother helps her cut the pictures.

بیا، هغه انځورونه پرې کوي او نیا یې د انځورونو په سرېښولو کې مرسته کوي.



Then, she cuts the pictures and her grandmother helps to glue them.

میمونه یوه کیسه لیکي او ورور یې د پاڼو په خپلو کې سنجاق کولو کې مرسته کوي.

Taro writes a story and her brother helps staple the pages together.



میمونه اوس د لوستلو لپاره یو کتاب لري!

**په کیسه کې د میمونې په څېر، زده کوونکي اوس د خپلو کتابونو لیکوالان دي!**

- زده کوونکو ته د فکر کولو او شریکولو لپاره فرصت ورکړئ:
- کله چې تاسې خپل جوړ کړي کتاب ته ګورئ، څه محسوسوئ؟
- آیا تاسې خپل کتاب له نورو سره شریکول غواړئ؟ ولې؟
- تاسې نور کوم کتابونه انځورول غواړئ؟

3

| | |
|---|---|
| د بډاینې اضافه فعالیتونه | زده کوونکي کولای شي نور متن ورزیات او د کتاب لنډیز او د کورنۍ غړو "نظرونه" سره وروستی مخ ډیزاین کړي. |
| د ساده جوړولو لپاره بدلونونه | زده کوونکي کولای شي چې ټولې لیکنې حذف کړي او یو ساده بې کلمو/انځوریز کتاب جوړ کړي. |

لومړۍ ضمیمه: د شیرینۍ لپاره یو کتاب:

Appendix 1: A Book for Puchku:

https://storyweaver.org.in/stories/24620-a-book-for-puchku



# A Book for Puchku

**Author:** Deepanjana Pal

**د شيريني لپاره يو کتاب**

ليکوال: ډيپانجانا پال



"شيريني! غسل وکړه!"
"شيريني! ډوډی دې وخوره!"

"Puchku! Have a bath!"
"Puchku! Eat your food!"





"شيريني! ټولګي ته ولاړه شه!"
"شيريني! بس ته وخېژه!"
"شيريني! خپله کورنۍ دنده دې وکړه"

"Puchku! Go to class!"
"Puchku! Get on the bus!"
"Puchku! Do your homework!"



"Where is Puchku?"

"شيريني چېرته ده؟"

Puchku is busy.
She has a book to read.

Puchku reads all the time — at home, in school, in the park, in bed.
Page after page, book after book, one by one, she has read them all.



شيريني بوخته ده.
هغه يو کتاب لري چې بايد وې لولي.

شيريني هر وخت لوستل کوي – په کور کې، په ښوونځي کې، په پارک کې، په بستره کې.
يو مخ پسې بل مخ، يو کتاب پسې بل کتاب، يو په يو، هغې دا ټول لوستلي دي.

"ته ولې تل لوستل کوې شیرینۍ؟" ګلاب پوښتنه کوي.



"Why are you always reading Puchku?" asks Boltu.

"Books are so much more fun!" says Puchku.


"Look! You see a circle? And this straight line? Push it in, pull that out, and it becomes a letter. Line up the letters, and you have a word!
Words can be wise, words can be funny, words can be sad and words can be sunny.

When you put words together, they make sentences.
And sentences become stories. Read it and WHOOSH!
You are in another world!"

"کتابونه ډېر خوند لري! " شیرینۍ وایي.

"ګوره تا ته یوه دایره ښکاري؟ او دا نېغه کرښه؟ دا دننه زور کړه، هغه بیرون کش کړه، او دا یو توری جوړیږي. دا توري په کتار کې تنظیم کړئ، او تاسې یوه کلمه لاسته راوړئ!
کلمې هوښیارې کېدای شي، کلمې خندوونکې کېدای شي، کلمې غمژنې کېدای شي او کلمه لمریزې کېدای شي.

کله چې تاسې کلمې سره یوځای کوئ، له دوی څخه جملې جوړیږي. جملې په کیسو بدلیږي. دا ولوله او واووو! ته په یوه بله نړۍ کې"




But today, Puchku is in a fix.
She has run out of books to read!
All the books that she could reach in the library,
she's read from Chapter One to The End.

ښو نن، شیرینۍ په یوه ستونزه کې ده.
هغې سره د لوستلو لپاره کتابونه خلاص شوي دي!
په کتابتون کې د هغې د لاسرسي وړ ټول کتابونه هغې له لومړي څپرکي څخه تر وروستي پورې لوستلي دي.



"What will I do? No more books to read!" wails Puchku.

**"زه به اوس څه کوم؟ د لوستلو لپاره نور کتابونه نشته دی!" شیرینۍ فریاد کوي.**



There is still one problem though. She is too short. And the bookshelf is too tall.


How can Puchku get up there?

**که څه هم یوه ستونزه لا هم شتون لري. هغه ډېره لنډه ده.
او د کتابونو الماری
ډېره لوړه ده.**

**شیرینۍ څنګه کولای شي پاس ځان ورسوي؟**

2



Maybe she can use a washing line?
Or Ma's sari to climb?
How about the chairs and
tables in the room?

ممکن هغه د کالو پرېمنځلو سیخ/لرګي څخه ګټه واخلي؟
یا د مور ساري څخه چې پورته وخېژي؟
په خونه کې پرتې څوکۍ او
میزونه څنګه؟



شیرینۍ یو پلان لري. هغه د مرستې لپاره
ګلاب او ارباب راغواړي.
غلي غلي هغوی د یوه بل د پاسه خېژي.
"ګلابه، ته درونده يې!" ارباب شکایت
کوي. "تا ته مې وويل چې هغه اخيري
ګلاب جامن مه خوره."
"زه نه یم،" ګلاب وپرشېدو.
"دا شیرینۍ ده!"
"ششش! بس نږدې یم،" شیرینۍ وايي

**په همدغه وخت کې هر څه خرابيږي.**

Puchku has a plan. She calls Boltu and Dodla for help.

As quiet as they can, they climb on top of each other.
“Boltu, you’re heavy!” Dodla complains. “Told you not to eat that last rasgulla.”
“It’s not me,” Boltu hisses.
“It’s Puchku!”
“Shh! Almost there,” says Puchku.

**Just then, it all goes wrong.**

AHHHHHHHH!

آآآآه..هـ






"دلته څه روان دي؟" دا ډېره لوړه د کتابتون
مسئووله ده!
هغه شیرینۍ کښته کوي.
ګلاب او ارباب تښتي!
شیرینۍ په خوابښینۍ سره هغه کتاب ته ګوري
چې نږدې و لاس ته يې ورغلی و.
"آیا زه مرسته کولای شم؟" ډېره لوړه د
کتابتون مسئووله پوښتنه کوي.

“What is happening here?” It is the Very Tall Librarian!
She puts Puchku down.
Boltu and Dodla run away!
Puchku looks up sadly at the book she almost had in her hand.
“Can I help?” asks the Very Tall Librarian.

“I was trying to climb the bookshelf.
I have run out of books to read,” says Puchku, sadly.
“Why didn’t you say so?” says the Very Tall Librarian.
“As long as I am around, you do not have to climb
a bookshelf. May I pic
Puchku nods.

2

"ما د کتابونو الماری ته د ختلو هڅه کوله.
زما د لوستلو کتابونه خلاص شوي دي." شرینۍ په خپګان سره وايي.
"تا ولې دا و نه ویل؟" ډېر لوړه د کتابتون مسئووله وايي.
"تر څو پورې چې زه دلته یم، تا ته هیڅ اړتیا نشته چې د کتابونو الماری
ته وخېژې. آیا زه درته یو کتاب راواخلم؟"
شیرینۍ سر ښوروي.



“I will take this, and this, and this one too!” says Puchku happily. “Thank you!”
“Take this one too,” says the Very Tall Librarian.
“When I was small, I loved this book.”

"زه به دا واخلم، او دا یو هم! شیرینۍ په خوښۍ سره وايي. "له تاسې
څخه مننه!"
"دا یو هم واخله،" ډېره لوړه د کتابتون مسئووله وايي.
"زه چې کوچنۍ وم، ما دې کتاب سره مینه درلوده."



"You were small once?" Puchku asks.

"Oh yes, even smaller than you," says the Very Tall Librarian. "But then I grew, and so will you. Until then, all you need to do is ask for a book and I will be here to give it to you."



"ته هم یو وخت وړه وې؟" شیرینۍ پوښتنه کوي.

"اوه بالکل، آن تا نه هم وړه وم،"
ډېره لوړه د کتابتون مسئووله وایي.
"خو زه لویه شوم، او ته به هم لویه شې. تر هغې پورې، هغه څه چې تې باید وکړې؟ هغه دا دي چې بس ته کتاب غواړه او زه به دلته ستا په خدمت کې یم چې در یې کړم درته."



Because Puchku has a new book.

**څکه چې شیرینۍ اوس یو کتاب لري.**

But is Puchku listening?
No she is not!
She is inside her book,
through a circle and a line
And a letter and another.
Then a word! And another,
A sentence. And another.
And now a story.


**خو آیا شیرینۍ غوږ نیولی دی؟**
**نه هغې نه دی نیولی!**
**هغه په خپل کتاب کې ننوتې ده،**
**د یوې دایرې او یوې کرښې**
**او د یوه توري او بل توري.**
**بیا د یوې کلمې! او بلې،**
**د یوې جملې، او بلې.**
**اوس د یوې کیسې،**
**له لارې.**

BRITISH COUNCIL — LearnEnglish Kids

# Little Red Riding Hood

## 1. Match them up!

Draw a line to match the picture and the word.



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| wood | granny | basket | wolf | eyes | see |
| ears | hear | nose | smell | teeth | eat |

## 2. What's the order?

Watch the story and put the sentences in order.

| | |
|---|---|
| | On her way she met a wolf. |
| | Little Red Riding Hood looked at the wolf's eyes, ears, nose and teeth. |
| 1 | One day Little Red Riding Hood went to visit her granny. |
| | Little Red Riding Hood never saw the wolf again. |
| | The wolf opened his mouth wide and Granny jumped out. |
| | The wolf ran to Granny's house and ate Granny up. |
| | A woodcutter heard a loud scream and ran to the house. |


© British Council, 2017 The United Kingdom's international organisation for educational opportunities and cultural relations. We are registered in England as a charity.

BRITISH COUNCIL — LearnEnglish Kids

## 3. Match them up!

Watch the story. Match what Little Red Riding Hood and the wolf say.

| | |
|---|---|
| Granny, what big eyes you have! | All the better to hear you with! |
| Granny, what big ears you have! | All the better to eat you with! |
| Granny, what a big nose you have! | All the better to see you with! |
| Granny, what big teeth you have! | All the better to smell you with! |

## 4. Write and draw!

Draw a picture of your granny or someone else in your family and write about them.

.......................................................................................

.......................................................................................

.......................................................................................


© British Council, 2017 The United Kingdom's international organisation for educational opportunities and cultural relations. We are registered in England as a charity.